Share

Twittern

ډاکټر عبدالرحمن زماني
۲۰۱۲/۰۸/۲۷

# دښاغلی جهانی «د اعلیحضرت امان الله خان اصلاحات او سقوط»

## په ليکنه کې د انګريزانو د لاس وهنې څخه مطلق انکار

د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو د تاريخي او مهمې ورځې د ۹۳یم تلين په درشل کې زمونږ د معاصر خوږژبي او تکړه شاعر او پياوړی ليکوال ښاغلي جهاني صيب مفصله مقاله د ډله ايزو رسنيو او ويب پاڼو له لارې خپره او د نورو زياتو هيوادوالو په شان ما هم ولوسته.

ښاغلي جهاني دا مقاله اصلاً د نن نه اته کاله مخکې، په جرمني کې د ۲۰۰٤ کال داګست د مياشتې په ۲۱مه نيټه، د افغانستان د خپلواکۍ د پنځه اتيايمي کليزې په وياړ د «غازي امان الله خان- دافغانستان د خپلواکۍ ستوری» په نوم جوړ شوي کنفرانس ته **«داعليحضرت امان الله خان د اصلاحاتو د ناکاميدو دعلتونو»** تر عنوان لاندې استولې وه، او دا ځل يې يو څه بدلونونه او زياتونې پکې کړيدي.

ښاغلي جهاني د خپلې ليکنې په پيل کې د اعليحضرت امان الله خان ستاينه کوي او د خپل اولس له نيکمرغه کولو، عصري کولو او پرمخ بيولو سره **د هغه ژوره، صميمانه او صادقانه ليونۍ مينه ستائي او هغه ديوه شاعر، هنر مند او نقاش د مينې سره مقايسه کوي.**

زمونږ وتلي شاعر جهاني صيب د خپلې ليکنې يا څيړنې په لومړي سر (دوهم پراګراف) کې خپله فرضيه څرګنده کړې او وائي چې «اعليحضرت امان الله خان، چې په نړۍ کې د وخت د تر ټولو ستر استعماری طاقت په مقابل کې د سر پورته کولو او د جنګ داعلانولو په افتخار خپل اولس په جوش او خروښ استقبال کړی او دغازي لقب يې ورکړی و، خپل هغه اولس صرف د ترقۍ، ازادۍ اوپر مختګ سره دهغه دلېونۍ مينې په ګناه د کافر او لاټي په نوم له ملکه وشاړه.»

دلته جهاني صيب د هغو کسانو دريغ غوره کوي چې (۱) د ولس د داخلي او باندنيودښمنانو پرځاي، خپله **افغان اولس** د اماني نهضت د نسکورولو مسؤل بولي، (۲) پرهغه **د کفر او بی دينۍ** تورونه **د اولس د پاڅون** مهم او اساسی علتونه ګڼي، او (۳) ګواکې د هيواد څخه د وتلو انګيزه يې د کورنۍ جګړې او خلکو د وينو د توئيدو مخنيوې نه، بلکه د سپه سالار محمد نادر خان په وينا بزدلي او غليم ته د ميدان خوشې کول بولي.

تر دې وروسته جهاني صيب په ډېرې حوصلې سره د خپلې دغې فرضيې د ثبوت دپاره په څه ناڅه ۲٦ مخونو کې د بيلابيلو مأخذونو څخه مطالب خوښ او رانقل کړی دي. ليکنه اصلاحاتو ته په لنډې اشارې سره بيا د هغو په وړاندې غبرګونونو باندې غږيږي، او بيا ترې د دغو اصلاحاتو او اماني رژيم د ناکامۍ او سقوط اصلي علتونه راباسي، دا هماغه پخوانۍ نتيجه ده، خو په بدلو کلماتو او الفاظو. **د ده په نظر د غازي امان الله خان د سقوط اصلي علت د هغه دوه سترې خطاوې وې، يوه په وروسته پاتې او بې تعليمه ټولنه کې د بې وخته اجتماعي او کلتوري اصلاحاتو طرح کول، او بل د دغو اصلاحاتو د عملي کولو دپاره د لازمې وسيلې يا قوي پوځ نه درلودل.**

جهاني صيب د مخه د خپل دغه نظرد تأئيد دپاره ليکلي وو چې «وروستيو پيښنو او اصلاحاتو او د نادرشاه، ظاهر شاه او داؤد خان کلونو وښودل، چې په افغانستان کې د پوځ او حکومت په زور تقريبا هر ډول اصلاحات ممکن دي او چې خلک لږ او ډير ورسره بلد شي، هرکلې يې هم کړی دی.»

جهاني صيب پرته لدې چې د اماني دورې په پرتله د تيرورژيمونود څه باندې نيمې پيړۍ اصلاحاتو په کچه او لاسته راوړنو لوستونکو ته معلومات ورکړي، يا د قندهار، شمالی، پکتيا او کنړ د پاڅونونو په ټکولوکې د پوځي طاقت د استعمال په انګيزو او تلفاتو رڼا واچوي، او يا هم تر هغې وروسته د فرمانونو او پوځ په زور د تره کي او امين د ګوډاګي رژيمونوتجاربو او د هغې پايلو ته اشاره وکړي، دغه مقايسه کړيده.

خو هغه څه چې ماته د جهاني صيب په ليکنه کې عجيبه او خواشينوونکي ښکاره شو، هغه دا نه وو چې داخل بيا جهاني صيب خپلې هماغې پخوانۍ نتيجې ته رسيدلې، بلکې د هغې په څنګ کې هغه دا ځل د انګريزي استعمار د يوه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

وتلي پوځي جنرال، دسیمي په چارو کي د انګرېزانو دسیاسي کارپوه او استخباراتي چارواکي، برید جنرال پرسي سایکس Percy Molesworth Sykes د لیکني په مرسته، په اصطلاح سره د غازي امان الله خان د ګناهونو پیټي نور هم دروند کړی دئ. هغه خپله اوږده لیکنه د سایکس په هغه تور ختموي، چي ډېر کسان به پرې د لومړي ځل د پاره د جناب جهاني صیب د قلم له لاري خبر شوي وي-- د حبیب الله کلکاني دراوستلو د مسؤلیت تور او ګناه درته یادوم . هغه لیکي: **« سر پرسی سایکس وایی د تاریخ په محکمه کي هغه [ غازي امان الله خان] ځکه محکوم دی چي پر افغانستان باندي د سقاو د زوی مصیبت ده نازل کړ.»**

یوه یوه ویلي چي تاریخ هیڅکله قضاوت نه کوي، خو خپله سینه زمونږ په واک کي اچوي تر څو هغه وڅېړو، او د هغي څخه پټي پیښي راڅرګندي کړو. دا مونږ یو چي سم او یا غلط قضاوت کوو، دا مونږ یو چي په خپلو تنګو سترګو یواځي یو کوچني ټکي وینو، او یا په پرانیستو سترګو د حقیقت د موندلو دپاره پراخه ساحه لټوو.

دیوې تاریخي مسئلي په مطلق سموالی ټینګار، نه یواځي داچي د تاریخ لیکني کار سختوي، بلکي د سم او ناسم ترمنځ د توپیر د موندلو قابلیت هم له مونږ څخه اخلي، په تېره بیا که تاریخي اسنادو ته د مراجعي پرځای، پرته له تحقیقه د داسي کسانو نظریات ومنو، چي د خپل هیواد داستعماري ګټو د ساتلوپه لاره کي د افغانانو او امان الله خان سره خپله دبنمني او خاصه کرکه او نفرت هیڅکله هم نه پټوي، بلکي دائي مسلک او وظیفه هم ده، لکه تیټلر فریزر او د جهاني صیب نوی کشف شوي لیکوال پرسي سایکس.

زه نه غواړم دلته په لیکنه کي د بیلابیلو تاریخي پیښو او حقایقو د مسخ کولو او یا غلط وړاندي کولو په هکله تبصره وکړم، خو لازمه ګڼم په ټول هغه احترام سره چي جهاني صیب ته یي لرم، دده پام یوې مهمي او جدي مسئلي ته راواړوم، او هغه پدغه لیکنه کي د انګرېزانو د دسیسو او توطئو څخه مطلق انکارده. د جهاني صیب په ۱۸۹٤۱ لغاتو مشتملي دغي لیکني کي یو ځل هم د انګرېزانو یا انګلیسانو نوم ذکر شوی ندی. برېټانیي ته دري ځل، هغه هم د برېټانوي استعمار څخه د استقلال د ګټلو، افغانستان او برېټانیي ترمنځ پولو، او برېټانوي هند د خاورې په اړه اشاره شویده.

د اماني دورې د پرمختیایي اصلاحاتو د بیلابیلو اړخونو او ابعادو څېړنه، داصلاحاتو سره د اغتشاشاتو تړاو، د اصلاحاتو په وړاندي د غبرګون په ترڅ کي د افغان اولس او د امتیازه بي برخي شوي حاکم قشر او د پردیو دګمارل شوو عناصرو تر منځ د کربني بیلول، پر غازي امان الله خان د شخصي تیري او د هغه داصلاحاتو په اړه د انتقاد او نیوکو تر منځ توپیر، د اماني اصلاحاتو د ناکامی او د اماني رژیم د سقوط تر منځ فرق، او د اماني نهضت د ماتي د کورنیو او باندنیو، اصلي او فرعي عواملو او عاملینو پیژندنه او تحلیل، ځانګړي بحث ته اړتیا لري. البته دا بحث مهم هم دئ چي که د خدای رضا وه ډېر ژر به یي پیل کړو. خو زه دلته یواځي **د انګرېزي استعمارد دسیسو او توطئو او لاس وهنو څخه د جهاني صیب مطلق انکار** ته ګوته نیسم، او په ډېره لنډه توګه د لیکوال او محترمو لوستونکو پام یو څو مهموغټوټکو ته اړوم :

1 . داماني رژیم په نسکورولو کي د باندنیو عواملو رول

پدي کي هیڅ شک نشته چي دغازي امان الله خان د رژیم په مقابل کي دوه ستر شورشونه شوي وو، لومړی د منګلو شورش او بیا د ۱۹۲۸ کال شورش، د کومي په نتیجه کي چي د اماني رژیم دسقوط زمینه برابره شوه. د انګرېزانو په شمول دباندنیو او افغاني مؤرخینو اکثریت په دغه شورشونو کي د باندنیو (خارجي) عواملو او پردو لاس وهنو، لمسونو او دسیسو یادونه کوي، خو فرق دومره دئ چي ځیني دا باندني عوامل د رژیم د نسکورولو عمده او اصلي دلیل ګڼي او یو شمیر یي هم فرعي علت بولي. خو جهاني صیب لیکي چي **« په افغانستان کي، د امان الله خان په مقابل کي تولي ستونزي د هغه د اصلاحاتو سره د ملایانو، حضرتانو، پیرانو او د زړو فکرونو د څښتنو سردارانو د اختلاف له امله را پیدا سوی.»**

2 . دانګرېزانو د دسیسو او لاس وهنو څخه مطلق انکار

د انګرېزانو په ګډون ټول باندني او کورني مؤرخین دا قبلوي چه دغازي امان الله خان دواکمنی په ټول دوران کي د انګرېزانو او افغانستان مناسبات دستونزو او مشکلاتو ډک وو. داچي انګرېزانو د امان الله خان څخه ولي نفرت درلود، ولي د هغه د وژلو، د هغه پر ضد د کودتاوو او د هغه د رژیم د نسکورولو په لټه کي وو، او ولي یي د برېټانوي هند په ګاونډ کي یو خپلواکه او آباده افغانستان موجودیت زغملای نشو، او د هغه د رژیم د نسکورولو دپاره یي څه ډول

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

هڅې کړې وي، د دې ليکنې د هدف او حوصلې څخه بهر موضوع ده. زه پدې برخه کې جهاني صيب ته بلنه ورکوم چې د افغان جرمن آنلاين د پورتال په آرشيف کې، د www.afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?77 په پته، د دې قلم هغو ليکنو ته مراجعه وکړي چې د « توطئه های انگليس عليه حکومت امانی» تر عنوان لاندې نشر شوې، او په لسهاوو معتبره اسناد پکې وړاندې شويدي. پدې مقالو کې په خاصه توګه دالاندنی مقالې د يادولو وړ دي:

- انگليس هانميخواستند شهزاده امان الله خان جانشين امير حبيب الله خان شود.
- ستراتيژی جنگی انگليس ها در جنگ ۱۹۱۹ از بين بردن غازی امان الله خان را نيز در بر داشت
- انگليس ها کوشيدند جنگ سوم افغان انگليس را بی ارزش جلوه دهند
- انگليس ها ادعا کردند که گوياپيشنهاد متارکه توسط غازی امان الله خان صورت گرفته است
- مرور مختصر تاريخچۀ فعاليت های جاسوسی انگليس در افغانستان و شبه قارۀ هند
- عاملين يا ايجنت های مسلمان انگليس در کابل
- نمونه های از فعاليت های تخريبی وجاسوسی بريتانوی در افغانستان
- عبدالواحد شينواری يا مستر ويد آستراليائی يکی ازمهره های مهم توطئه های انگليس
- حمايت دولت امانی از قبايل سرحدی و مبارزات آزاديخواهان هند نفرت انگليس ها را بيشتر ساخت
- انگليس ها از ائتلاف احتمالی غازی امان الله خان وملی گرايان هند ترس داشتند
- جنبش هجرت مسلمانان هند يا تلک ديگری از دسايس انگليس
- عزيز هندی کی بود و برای کی فعاليت ميکرد؟
- دسايس و توطئه های انگليس در قبال روابط افغانستان و روسيه
- توطئه های انگليس برای جلوگيری از تأسيس مناسبات سياسی افغانستان با امريکا و جهان
- توطئه های ترور و ازبين بردن اعليحضرت امان الله خان غازی
- ترور شخصيت و سؤقصد بر جان غازی امان الله خان بعد از ترک وطن نيز ادامه داشت
- اثرات رفتن غازی امان الله خان به حج
- اقدامات انگليس ها به تعقيب کشته شدن محمد نادرشاه
- تقاضای دستگيری امان الله خان از دولت ايتاليا
- نظارت مشترک دستگاه های استخباراتی و ديپلوماتيک بر فعاليت ها و حرکات غازی امان الله خان
- افغان هائی که تحت تعقيب انگليس ها قرار داشتند
- همکاری عملی انگليس ها با رژيم کابل ...
- جلوگيری از نشرات مخالف رژيم خاندان محمد نادرشاه

داماني رژيم د سقوط د عواملو په هکله د افغانانو اکثريت وائي چې دا دانګريزانو طرحه او دسيسه وه. د اغتشاش په وخت کې اکثره باندني ځارونکي هم د انګريزانو په دسيسو او توطئوباندې تأکيد کوي. په دې ډله کې هغه کسان هم شامل دي چې جهاني صيب په خپله ليکنه کې د هغو د آثارو څخه استفاده کړې، خو پدې هکله يې هيڅ اشاره نده کړې.

**انتوني های من** انګليسي څېړونکي او د اوسني افغانستان د تاريخ کاړوه، چې په ۱۹۹۹ کال کې په لندن کې مړ شو، وائي چې د شاه امان الله سره د انګريزانو د مخالفت څخه د مصاحبانو کورنی ګټه واخيسته. هغه وائي چې پدې کې هيڅ شک نشته چې دشاه امان الله د واکمنی په نسکورولو کې د بريتانيا د امپراتوری دښمني، يو علت وو. (۱)

## 3. د حبيب الله کلکاني د مصيبت د نازلولو مسؤليت

دګن شمير اسنادو او شواهد په استناد، دغازي امان الله خان واکمني د دوامدارو باندنيو او کورنيو توطئو او دسيسو په نتيجه کې کمزورې شوه. د انګريزانو د بريتانوي هند د دفترد آرشيف د ګڼ شميرهغو اسنادو څخه چې اوس د محرميت څخه راوتلي، څرګنديږي چې د امان الله خان د رژيم سقوط او د هغه پرځای د انګريزانو د خوښې د يوه بل کس راوستل د افغانستان او سيمې دپاره د انګريزانو د ماسترپلان يوه برخه وه.

هماغه ليون پولادا، چې جهاني صيب تری څو- څو ځله په خپلې ليکنې کې يادونه کړې، عقيده لري چې دانګريزانو په نظر د امان الله خان فعاليتونو بريتانوي هند ته درې ګوني خطرې متوجه کولی: امان الله خان عقيده درلوده چې افغانستان يو مستقله دولت دئ او حق لري چې د [بريتانيا رقيب] شوروي اتحاد سره دوستانه روابط ولري; همدا شان هغه ديوه مستقل مسلمان دولت د پاچا په حيث وجيبه لرى چې په هند کې د انګريزانو په بند کې دخپلو مسلمانو ورونو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

ملاتړوکړی; او د ډیورند د کرښي بلي خواته هغو قومونو سره روابط مجاز ګڼي، کوم چي د افغانستان سره نژادي، مذهبي او تاریخي تړاو لري، او بریتانیاهم د ۱۹۲۱ کال په معاهدې کې پر دغه حقیقت اعتراف کړې او هغه یې د افغانستان طبیعی حق بللي دئ.

د افغان لیکوال سید قاسم رشتیا په وینا د انګریزانو د ماسټرپلان ټول کارونه په سمه توګه پرمخ تلل، خو دامان الله خان څخه محمد نادرخان ته د قدرت مستقیم انتقال مطلوبه نتیجه نه ورکوله او سم نه وو، نو ځکه باید یو حائل دولت رامنځته شوې وای، او له همدې امله د سقاو په ځوې مشهور حبیب الله خان کلکاني د دې کار دپاره غوره قرباني وبلل شو. د هغې د مؤقتي بریالیتوب د پاره استعماري قواوو او کورنیو «تاریک اندیشو» د شمالي د شورش د مرستې دپاره ټولي قواوې په کار واچولې، تر څو اماني دولت د ماتې سره مخامخ او حبیب الله دافغانستان د پاچا په توګه د قدرت پر ګدی کینوي. دلته یوه ټکي ته توجه په کار ده او هغه د امان الله خان د مترقي دولت پر ځای د یوه حائل او انتقالي دولت دراوستلو مقصد وو. هغوی نه غوښتل چې د نادرخان هلې ځلې د امان الله خان د سلطنت ختمول وګڼل شي، بلکې دا باید د وطن د نجات او اوږدو ګډوډیو او شورشونو څخه د هیواد خلاصون وښودل شي. پدې ترڅ کې د بریتانوي هند د حکومت د پلانونو عملي کولو د پاره د سردار شیراحمدخان، سردار فیض محمد خان ذکریا او محمود سامي په شان د مشاورینو یوه کړی هم د حبیب الله کلکاني څخه راتاوشوي وه. (۲) استاد خلیل الله خلیلي وائي چې، خدای غوښتل [ په حقیقت کې انګریزانو غوښتل] چې د سلطنت ټول مدعیان د حبیب الله کلکاني په لاس له منځه یوړل شي، او هغه بیا د نادر خان په لاس له منځه لړي شي.

دلته په غازي امان الله خان باندي د حبیب الله کلکانی د راوستلو تور هغه تور سره ورته دئ چې د غازي امان الله پر نږدې همکار، محمد ولي خان دروازی، ولګول شو، او د امان الله خان پر ضد د حبیب الله کلکاني د مرستې په تور اعدام شو.

ښه به داوي چې دشورشونو په هکله د غازي امان الله خان خپل نظر ته هم وګورو. په کابل کې د وخت در وسیې سفیر، ستارک، د ۱۹۲۸ کال د نومبر په ۲۵ مه نیټه د غازي امان الله خان څخه وغوښتل چې خپل حضور ته یې ومني، او د اوضاع په هکله ورته معلومات ورکړي. «پاچا ورته پرته له کومې مقدمې په کلکه وویل چې شورش د انګریزانو په لمسه شوي او هدف یې د هغې [امان الله خان] له منځه وړل دي ». ستارک لیکي چې «ترکومه ځایه چې د شورش په [نورو] عواملو پورې اړه لري، پاچا ټینګار وکړ چې پرته له دغه اصلی عامله، د اصلاحاتو څخه د خلکو د رضایت کموالي، او دهغه څخه د انګریزانو استفاده او په اطرافو کې داصلاحاتو غلطه معرفی او په ناوړه ډول د هغو اجراکول هم رول لوبولي دئ.» (۳)

### 4 . په غازي امان الله خان د کفر او لاتي توب تور

د کورنیو او باندنیو تاریخ لیکونکو اکثریت په ګډه عقیده لري چې د مذهبي مشرانو سره د غازي امان الله خان مشکلات دیني مشکلات نه، بلکې سیاسي مشکلات وو. د مثال په ډول پولادا لیکي چې «ملایانو په لومړي سر کې ځکه دغازي امان الله خان طرفداري او ملاتړ کاوه چې هغه د ترکانو پلوي، او د انګریزانو مخالف ؤ، او د پان اسلامیزم سره یې همکاري کوله. خو وضعي کرار- کرار تغییر وکړ او ځینو ملایانو د هغه په هکله خپل نظر بدل کړ. **ددې بدلون علت د امان الله خان دمذهبی عقایدو کمزورتیا نه وه، او ملایان پوهیدل چې امان الله خان یو مذهبي سړی دئ. واقعي علت د امان الله خان د پالیسیو څخه د هغوی ویره وه.** پدغه پالیسیو کې دیوې منظمې او فعالي اداري دستګاه جوړول شامل وو، کوم چې په دوو سطحو کې د مذهبی مشرانو ګټې د خطر سره مخامخ کولی. په ښارونو او حکومتی مرکزونو کې مذهبي مشرانو د قاضیانو، مفتیانو او محررانو دندې سرته رسولي، او د دعواګانو د فیصلو او رشوت له لارې یې دوامداره عایدات درلودل. هغوی پوهیدل چې د قانون په چوکاټ کې دیوې پاکي اداري دستګاه جوړول، د هغوی سیاسي او اقتصادي نفوذ ته زیان رسوي.

په کلیوالو سیمو کې د تعلیم او تربیې اصلاحات، کوم چې غازي امان الله خان په ټینګه تعقیبول، د ملایانو د ګټو سره ټکر کاوه. برسیره پردې، د مالیاتو دټولولو او عسکري خدمت ته د جلبولو په شان اداري اصلاحاتو، د ملکانو ګټې د خطر سره مخامخ کولی. سره لدې چې دغو اصلاحاتو د مذهب سره هیڅ رابطه نه درلوده، خو ملایان چې په کلو کې د ملکانو او خانانو د اقتدار طبیعي شریکان وو، له دغو اصلاحاتو څخه زیانمن کیدل، نو ځکه یې خپلو شکایاتو ته مذهبي رنګ ورکاوه.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

استاد فضل غنی مجددی، چې هم د امان الله خان په سختې مخالفې مذهبې کورنی پوری اړه لري، او هم د تاریخ په ځانګه کې د ماسترۍ په درلودو سربیره، په اسلامي فقه کې زیاتې څیړنې او آثار لري «داسلام د دین په هکله د امان الله خان شخصې دریځ، چې مخالفین یې د اسلام سره مخالف او د دین د کړی څخه وتل تعبیروي، له انصافه لرې بولي. هغه وایي مونږ پدې برخه کې د هغوی د مخالفینو سره ملګری نه یو، او د څېړنو په ترڅ کې پوه شو، چې امان الله خان د خپلو نیکونو په پرتله په دیانت کې ښه دئ. امان الله خان د شرابو په څکلو او معشوقو په درلودلو کې شهرت نلري. د حجاب لرې کول، کفر ګڼلای نشو»(٤). مجددي صیب په یوه بل ځای کې لیکي چې زه د خپلو نیکونو په اسنادو کې دهیڅ کوم داسې سند په لوستلو بریالي شوی نه یم، چې امان الله خان ته یې کافر ویلي وي.

«استا اولسن» مشهور دنمارکي اسلام پیژندونکې د روحانیونو رول څیړي او د غازي امان الله خان سره د هغوی د مخالفت په هکله لیکي چې امان الله خان په خپل وروستي سفر کې د ترکیې د مصطفی کمال او ایران د رضاشاه د ځواکمنو پلانونو څخه د الهام په اخیستلوخپلې هیلې د ۱۹۲۸ کال د اګست دمیاشتې په لویې جرګې کې یوزر کسو ګډون کونکو ته وړاندې او د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز چټک پرمختګ دپاره یې خپل اصلاحی ریفورمونه مطرح کړل. **دغو پروګرامونو په افغانستان کې د روحانیت د قدرت زړه په نښه کړې وو.** پدې کې د ملایانو زده کړې، د قاضیانو د مکتب تأسیس، د غیر مذهبي مدني قوانینو جوړول، په مکمله توګه د وقف لغوه کول، په اردو کې د پیری او مریدی د سلسلې له منځه وړل، او د «دیوبند» د مدرسې پر ملایانو بندیزشامل وو، چې محافظه کارو مذهبي مشرانو هغه د ځان په وړاندې د جنګ اعلان ګڼله.

## 5 . د غازي امان الله خان د سلطنت په سقوط کې د انګریزانو لاس

د بریتانوي هند داستخباراتو د ګڼ شمیر اسنادو څخه څرګندیږي چې د خوست داغتشاش د ناکامی څخه وروسته انګریزان د کودتا او غازي امان الله خان پرځای د دوې د خوښې دیوه تن دراوستلو په فکر کې شول. پدې ترڅ کې یو سند د ۱۹۲۷ کال د جون د دوهمې نیټې هغه تلګرام دئ چې ددغه کار پر پایلو، د نادرخان په چانس او د غازي امان الله خان د مور دغبرګون په هکله، چې زیات نفوذ یې درلود، نظر څرګندوي. ګولډ پدې تلګرام کې لیکي چې «لومړی: ما سره داسې هیڅ دلیل نشته چې فکر وکړم علیا حضرته [ د غازی امان الله خان مور] به د خپل ګران ځوی په وړاندې مخالفت یا توطئې کې برخه واخلي، مګر داچې امیر یوه داسې لاره غوره کړي، چې د هغې د مور په نظر وژونکې ثابته شي، او خپل ټول نفوذ سره د هغې مخه ونشي نیولی. که چیرې امان الله دیوې کودتا قرباني شي، نو شاید هغه د عنایت الله خان او یا پاینده خان د کورنی د کوم بل کس پرځای، خپل وراره او زوم، علي احمد، ته ترجیح; دوهم: زما د معلوماتو مطابق، د علي احمد او سلطان محمد خیل [ د نادرخان کورنی) تر منځ مناسبات ښه نه دي، او هغه به هم دغې کورنی سره ملګرتوب ته زړه ښه نکړي، مګر داچې د هغه مقام یوه ټینګ تهدید سره مخامخ شي.»


PESHAWUR,
N.W.FRONTIER PROVINCE.

د ۱۹۲۸ کال ددسمبر دمیاشتې دانګریزي سرکار هغه لیک چې په افغانستان کې د یوی غورځیدلي طیارې د انګریزي افسرانو د مرستې په بدل کې د ډیر انعام اعلان کوي

انګریزي استعمار د بریتانوي هند تر څنګه یو قوي او پرمختللي افغانستان زغملی نشو، او تل یې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

غازي امان الله خان په هندکي د خپلي سلطي په وړاندي يو ستر ګواښ ګڼله. له همدې امله دوي تل د هغه د رژيم د نسکورولو دپاره بيلابيلي دسيسي او کوښښونه وکړل.

د اصلاحاتو په نتيجه کي د روحانيونو، سردارانواو خانانو په ګډون متنفذو ډلو خپل مطلق صلاحيتونه، امتيازات او مستمري تنخواګاني له لاسه ورکړی او د رژيم په مخالفينو بدل شول. د دوي تر څنګه د سردارانو او فاسدوغوړه مارو درباريانو خيانت، په دربار کي دننه ډلو ټپلومخالفتونو او رقابتونو، اود مصاحبانو د کورنی فعاليتونو، اماني رژيم کمزوري کړ. انګريزانو دغوحالاتو څخه ګټه پورته کړه او دعوامو د مذهبي عقايدو څخه په ناوړي استفادي، او د ملکي ثريا د عکسونو په بدلولو، چاپولو او خپرولو سره يي د شورشونو او اغتشاشاتو په اور تيل وروشيندل، او مرکزي حکومت يي کمزوري او بي ثباته کړ.

د بين المللي مطبوعاتو رپوټونه، په ميرانشاه کي د «بريتانوي هوائي قواوود د کارکوونکی"شاو" په بدل نوم» د انګريزانو د مشهور جاسوس لارنس موجوديت، داغتشاش په دوران کي د بيطرفی د سياست په بهانه د انګريزانو خرګند جوړ شوي خندونه، پر کابل باندي د مخالفينو د حملي په وخت کي، د ښار د پاسه د انګريزي طيارو ګرځيدل او د ګوابنه ډکو پاڼو شيندل، د حبيب الله کلکاني سره د انګريزانو د سفير کتل، د انکريزانو په سفارت کي د حبيب الله کلکاني د ټپونو علاج، په کابل کي د انګريزي سفارت د کارکوونکو دسيسي، د عبدالواحد شينواري (مستر ويد آسترالیائی) او نورو انګريزي جاسوسانو فعاليتونه، داماني نهضت په وړاندي د انګريزانو د دسيسو د پټ ساتلو د کوښښونو رسواکيدل، او داسي نور، د کورنيو عواملو په څنګ کي د اماني نهضت په سقوط کي د انګريزانو د ستر رول څرګندونه کوي، چي تفصيل به يي په جلا بحث کي ذکر شي.

پدي کي هيڅ شک نشته چي غازي امان الله خان هم يو انسان او هم ځوان وو، او پرته له عيبه او اشتباه به نه وو. هغه په ډيرې بي صبرى سره غوښتل د خپل ملت د هوسايني او خپل هيواد د ترقۍ او پرمختګ دپاره ژر تر ژره خپلو لوړو او انساني اهدافو ته ورسيږي. هغه په ځينو موارودو کي په فرعی او غير اساسي اصلاحاتو هم لاس پوري کړ. خوداچي پر هغه انتقاد کوونکي، د هغه درژيم د سقوط نه وروسته، پرته لدي چي اصلاحی پلانونه تجزيه او تحليل کړي، پر هغه شخصی نيوکي کوي، او هغه ملامته کوي، او د حبيب الله کلکانی د نازلولو تور هم پر هغه لګوي، له واقعيته لري ډيره ستره بی انصافي ده.

| |
|---|
| داماني نهضت تر سقوط وروسته دانګريزانو د خوښي د جوړ شوي حکومت په لاس د نوي تأسيس شوي «جمعيت العلما» د پنځو مادو هغه لومړنی اعلاميه چي د ۱۳۰۹ کال د اسد دمياشتي په ۲۹مه (د ۱۹۳۰ کال داګست دمياشتي په ۲۰مه) نيته خپره شوه<br><br>۱ ) هر که با پادشاه بيعت نکند و بميرد، مرګ او مرګ جاهليت است.<br><br>۲ ) خداوند بعد از بيعت، اطاعت و معصيت امر پادشاه را بر اطاعت و معصيت امر خود مساوی فرموده.<br><br>۳ ) خداوند ميفرمايد:.. جميع اوامر شرعيه پادشاه را خواه محبوب باشد يا مکروه اطاعت کنيد.....!!<br><br>۴ ) پيغمبر وجود پادشاه را ظل الله حس کرده اهانت او را اهانت خدا تعريف کرده.<br><br>۵ ) زجرباغی و طاغی پادشاهی را مساوی بکفار به قتل بالسيف امر ميدهد که ايشان را بقتل برسانيد .. |

(پای)

******************

1 . انتوني هايمن افغان پيژندونکي انګريز او د «افغانستان د شوروی تر سلطي لاندي» کتاب ليکونکي سره د بی بی سی د دري څانګي د ظاهر طنين مرکه (افغانستان در قرن بيستم، ص ۵۷).



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

٢. رشتيا، سيد قاسم (د سيدال يوسفزی په مستعار نوم) (١٣٧٨). نادر چگونه به پادشاهی رسيد؟ دميوند نشراتي مرکز، سبا کتابخانه.
٣ . د شوروي دخارجي سياست اسناد، ١٢ ټوک، ٥٦٣-٥٦٤ مخونه (د ولودارسکی، ميخاييل ليکني او د عزيز آريانفرد ژباړې (٢٠٠١)،د ١٩٥ مخ په حواله).
٤ . مجددی، فضل غنی (١٩٩٧)،افغانستان در عهد اعليحضرت امان الله خان ٣٣٠مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ